مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک
۲۰۲۰/۱۲/۲۰

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### نهمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب څو پرله پسي لیکنې خپرې کړې. ځینو دوستانو راڅخه وغوښتل چي که دا موضوع یو څه پسي پراخه سي، ښایي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نېستي کي مي دا څېړنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکني او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات ووینې، د مهرباني له مخې دي د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دي وبخښي.**

م. هوتک

**پښین د کندهار نه بېلېدونکی برخه:**

پښین له ډېر پخوا څخه د کندهار په صوبه کي شامله برخه وه. میر غلام محمد غبار په افغانستان در مسیر تاریخ ۳۰۶ مخ کي کښلي دي چي په افغانستان کي د هند د بابري دولت متصرفات له " صوبه بدخشان، صوبه قندهار، صوبه بلخ و صوبه کابل" څخه عبارت ول. د قندهار په صوبه کي "دوکی، پشنګ (۹۲)، شال، مستونګ (بلوچستان)، قلات، هزاره، تیرین، ګرمسیر، زمینداور،کشک نخود و غیره" علاقې شاملي وې . د قندهار صوبې کلني مالیات شپېته ملیونه دام ول.

په ۱۳۸۳م = ۷۸۵هـ ق کي د کرت خاندان پر قندهاربادي حکومت کاوه ... دغه وخت د کندهار سرحدونه تر سندهـ پوري غځېدلي ول. (۹۳)

د آئین اکبري (۹۴) په انګلیسي ترجمه دوهم ټوک ۳۹۳مخ کي د کندهار سرکار تشریح سوی دئ او د هغه حدود ئې داسي بیان کړي دي:
د کندهار سرکار اوږدوالی له کلات بنجاره څخه تر غور او غورجستانه پوري درې سوه کوسه دئ. بَر (عرض) ئې له سند څخه تر فراه پوري ۲۶۰ کوسه دئ.په ختیځ کي ئې سِنِد، په شمال کي ئې غور او غرجستان، په جنوب کي ئې سیوی او په لویدیځ کي ئې فراه پرته ده. کابل او غزنین ئې په شمال ختیځ کي پراته دي.

**ختیځ توابع ئې داسي راښوولي دي:**

**دوکی:** د اومو خښتو کلا لري. شپږ تومنه پیسې،۱۸۰۰ خرواره غله، ۱۲۰۰۰پسونه،۱۵ بلوڅي اسونه،ترین او کاکړ قبایل پکښې اوسي. پنځه سوه سپاره او زر پیاده عسکر ورکوي.

**پشنګ:** یوه د اومو خښتو زړه کلا لري. ۲۸ تومنه (۹۵) پیسې، ۳۲۰۰ پسونه،پنځه سوه خرواره غله، ۱۵۰۰ سپاره او ۱۵۰۰ پیاده عسکر لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

له پشنګ څخه ئي مراد پښين دئ.

کله چي حاجي میرویس نیکه په ۱۷۰۹م کال کندهار د صفویانو له سلطي څخه خپلواک کړ، پښين او شاخوا سیمه ئي د پخوا په شان د کندهار یو جزء وو.

د کندهار کي د هوتکو پاچهي په ۱۷۳۷ع کال کي د نادر افشار له خوا تر یوه کال کلابندئ وروسته ړنګه سوه او فارسیان پر کندهار باندي قابض سول.

نادر افشار چي د کندهار واکمنی ته تر یوه کال کالبندئ وروسته سقوط ورکړ (ذی الحجه ۱۱۵۰ هـ ق)، د سیمي او نورو مربوطاتو اداره سره بي نظمه سوه خو کله چي د معاصر افغانستان د بنسټګر لوی احمد شاه بابا په لاس او تدبیر خواره واره پښتانه او افغانان پر یوه مرکز سره راغونډ سول ، دا سیمه ئي د کندهار جزء و بلله. پخپله بابا تهل ته ولاړ او ددغه ځای اداره ئي خپل یوه نماینده ته وسپارله چي اغاجان نومېدئ (۹۶) اغاجان د اداري سړی نه وو. ترینان ورته پورته سول او وئي واژه. پر لوی احمدشاه بابا باندي د ترینانو دغه سرکښي درنه تمامه سوه او پر تهل ئي لښکرکشي وکړه. ترینانو اطاعت ومانه ،له بابا څخه ئي بخښنه وغوښتله او هغه هم په بزرګواری سره ومنله. په احمدشاهي عصر کي تهل ددغي سیمي له پاره مرکزي حیثیت درلود.

د پښين ساداتو ته لوی احمد شاه بابا ډېره زیاته عقیده درلوده. سید محسن اغا کندهاري (۹۷) پخپل کتاب مزارات کي کښلي دي چي لوی احمد شاه بابا د کندهار ښار د تاداو اینوولو پر مهال له پښين څخه د اشرف الوزراء شاولیخان بامیزي په غوښتنه یو سید راوغوښت چي د ښار لومړی خښته د تبرک له مخي دده په لاس کښېښوول سي. دا شخص سید ابدال اغا نومېدئ او سید محسن ئي خپل نیکه بولي. (۹۸)

د هغي نقشي له مخي چي په ۱۷۶۲م کي ترتیب سوې ده، د احمد شاهي امپراتورئ جنوب شرقي پوله پر سکهر ولاړه ده. (۹۹) سکهر د سیوی په جنوب کي پروت دئ او ترمنځ فاصله ئي ۲۲۵ کیلومتره ده.

د بارکزو په واکمني کي د ګندمک معاهدي تر لاسلیکولو(۱۸۷۹م) پوري تهل، دوکئ او پښين د کندهار یوه برخه وه او ددغه کرغېړن تړون تر لاسلیک وروسته د بلوچستان له نورو سیمو سره یوځای د انګرېزانو لاس ته ولوېدل. انګرېزانو په ۱۸۸۱ م کال تهل چوتیالي او دوکئ د هرنایي ضلع مربوطه سیمه اعلان کړه او په دوکئ کي ئي یوه قشله هم جوړه کړه. کله چي انګرېزانو له ډیره غازیخان څخه د لورالائي پر لار پښين ته سړک غزاوه، د دوکئ قشله ئي لورالائي ته نقل کړه. د پولیټیکل ایجنټ مرکزي دفتر چي پخوا په دوکئ کي وو، هغه ئي هم د لورالائي ښار ته انتقال کړ. تهل چوتیالي اوس په لورالائي ضلع اړه لري. د پښين اولس د افغان انګلیس په جګړو کي کي تل د انګرېزانو پر پوځي کاروانونو باندي په بریدو سره د افغانانو د ملي مجاهدو ملاتړ کړی دئ.

کاندید اکادمیسن محمد ابراهیم عطایي کښلي دي: "د شلمي پېړی په اوایلو کي د برتانوي هند د وایسرای لارډ کرزن په تشکیلاتي نقشه کي ... د پښين تحصیل چي د کویټي او پښين د ضلع په چوکاټ کي شامل وو، په هغه کي درې غټ کلي ګلستان، قلعه عبدالله او عنایت الله کاریز له افغانستان سره په ګاونډ کي پراته ول ...او د ډیورنډ کرښي تر ایستلو وروسته هم ددغي سیمي خلکو له خپل مورني وطن افغانستان سره خپل علایق نه وه شلولي او له احمدشاهي کندهار سره ئي خپل اړیکي د پخوا په شان ټینګي ساتلي." (۱۰۰)

### د پښين او شاوخوا سیمي سادات:

### سیدان څوک دي؟

سید په لغت کي د پیشوا، د قوم مشر، سردار او ښاغلي ته وایي. (۱۰۱) او په نسبي لحاظ هغو کسانو ته ویل کېږي چي د حضرت محمد مصطفی(ص) د لور بي بي فاطمة الزهرا(رض) اولادې ته منسوب وي. دآنحضرت(ص) زامن په ورکیني کي وفات سوي دي او ده مبارک ته نسبي رشته د بي بي فاطمې(رض) او حضرت علي کرم الله وجهه له لاري رسېږي.
په دې ډول نو سیدان په بني هاشم قریشو کي د امام حسن(رض) او امام حسین(رض) اولادې ته ویل کېږي. د سید جمع سادات راځي. د سید کلمه په قرآن عظیم الشان کي دوه ځایه یو ځای په سورة آل عمران ـ ۳۹ آیة او بل ځای په سورة یوسف ـ ۲۵ آیة کي راغلي ده.
سیدان د قبیلي په واقعي معنا سره یوه قبیله نسو بللای، بلکي دا یو شمیر ګروپونه او ډلي دي او په هره قبیله چي اوسېدلي دي د وخت و زمان په تېرېدلو سره ئي د هغي قبیلي خوی و خاصیت، دود و دستور او ژبه و کلتور اخیستی دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په افغانستان کي داسي کلی او محل نسته چي يو يا دوه کوره سيدان دي پکښې نه اوسي. سيد ته پر خپل نامه سربېره "آغا، پاچا، خواجه، مير، صاحب، ميا" هم وايي. د ساداتو درناوی د پښتني کلتور يوه غوره برخه ده. .د حيات افغاني د پښتو ژباړي په دويم ټوک ۲۳۸مخ کي کښلي دي : د افغانستان سادات له هزاره او ديره اسمعيل خان پرته نور ټول له يوه مخه اهل سنت والجماعت دي. د پښين سيدان په تجارت او سوداگري کي مشهور او د کلکي ارادې خاوندان او شتمن... خلک دي... دغه شريف خلک په هر ملک کي سته . دوی د ښه چلند خاوندان او بې ازاره خلک دي.

د کندهار مشهور روحاني شخصيت سيد محسن اغا پخپل منظوم کتاب " مزارات" کي د واقعي سيد اوصاف لس بللي دي او هغه عبارت دي له : حُسن خُلق، صداقت، علم، د عيبونو پټوونکی، د بدو کارو فاعل به نه وي، په بدو کارو کي به مفعول نه وي، بې له شناخته به معلوم وي، سخي به وي، ظاهري ښايست به هم لري، حليم به وي. (۱۰۲)

ځيني پښتني قبيلې هم ځانونه سيدان گڼي. لکه گنداپور، مشواني، وردک، هني او نور. خو ددوی سيادت ته د علم الانساب پوهان د شک په سترگه گوري.

**د پښين سادات:**

د ۱۹۰۷م کال د گزيټر د احصائيې له مخي ددغي سيمي ساداتو شمېر ۷۸۳۶ تنه بلل سوی وو چي په دې کي ۷۱۰۵ تنه د پښين په تحصيل کي او ۷۱۶ تنه په کوټه کي اوسېدل.

د اوسني بلوچستان اوسېدونکي سيدان بېلابېل خېلونه، کهولونه او کلي لري او لکه مخکي چي مو هم يادونه کړې ده هر خېل او ټبر ئې د اوسېدني د سيمي د خلکو ژبني، کلتوري او ټولنيز خصوصيتونه اخيستي دي.
د بلوچستان د اوسېدونکو سيدانو په خېلونو کي د بخاري، مودودي، قريشي، پيخي، حُسيني، غرشين، تارن، بيدر بهلول زي، کربلا، خوستي نومونه راوړي دي. (۱۰۳)

په دوی کي بخاري سيدان په پښين کي اوسي. محلي روايتونه وايي چي بخاري سيدان د بخارا او عراق له لاري د هندوستان پراخي سيمي ته راشيوه سوي دي .د دوی مخور څلور تنه ورونه ول چي سيد دُر جمال، سيد دُرجلال، دُر کمال او سيد دُر دليل نومېدل. (۱۰۴) چي تفصيل به ئې وروسته ولولئ.

د دې روايت منظوم ثبت د کندهار د يوه روحاني او فرهنگي شخصيت سيد محسن اغا له مزارات نومي کتاب څخه، که څه هم اوږد نظم دئ خو د موضوع د لا روښانتيا په خاطر ئې رانقلوم:

**اې ځما د زړگي سره**
**دا قصه ده ښه اظهره**
**ځمونږ جد رکن رکين و**
**مولانا جمال الدين و**
**او مشهور په دُر جمال و**
**هم په نور بدر کمال و**
**بخارا د ده وطن و**
**هم مولد هم ئې مسکن و**
**.................**
**بل سيد صحيح نسب و**
**عالي خوی عالي حسب و**
**مخ ئې سپين لکه آفتاب و**
**تن ئې روڼ لکه مهتاب و**
**نازولی د سيدانو**
**هم ښاغلی د وليانو**
**پر آسمان د عزت پاس و**
**د وحدت پياله په لاس و**
**تمام عمر نوشانوش و**
**له خپل پيره خلعت پوش و**
**له وطنه رارهي شه**
**طلبگار د خپل باري شه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کل منظور ئې له سفره
رياضت و اې دلبره
مدعا ئې صفايي وه
د باطن ئې خوبايي وه

.............
له تورانه تر ايرانه
راغی دی تر اصفهانه
که فارياب که زمخشر و
پر اورگنج ئې هم مقر و
بيا راستون شه خراسان ته
د هرات و شا فلان ته
قندهار ئې هم روښان کړ
لکه نمر هسې تابان کړ
چي شپېته کروه اې ياره
ليري شو له قندهاره
دې محل له راغی ورروه
نوم ئې پښين دئ واوره گوره
چي هارون نوماند ترين و
په ترينو کښې تعين و
د هارون پر کور ئې شپه شوه
ترينان ئې آشفته شوه
هارون تللی و تر ښکاره
له ښکاريانو سره ياره
ماندينه ئې وه په سرای کښې
هارون نه و په خپل ځای کښې
بلقيسه عصمت مآبه
عفيفه و مستطابه
بساطونه ئې هموار کړه
بالښتونه ئې قطار کړه
بيا نو راغله تر مهمانه
اې عزيزه تر چشمانه
عرض ئې وکړ ځما دلبره
راشه کښېنه ځما پدره
چي مېلمه ئې پر آرام کړ
نو ئې قصد د ښه اکرام کړ
په تعجيل سره ئې ياره
بُزه حلاله کړه هوښياره
د پختن په جستجو شوه
و مړېه ته په ناروه شوه
څو مېړه ئې راغی وروره
له بيابانه څخه گوره
لکه نمر هسي تابان شو
په مېلمه سره شادان شو
بيا ئې عرض کړ چي مهمانه
ښه راغلې رنگينه ځوانه
هر کله راشې دلبره
رب دې راوله سروره
ته ځما کور له برکت يې
برکت او کرامت يې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

.................

راشه واوره ځما دلبره
رب دي تا کړي بهروره
درسته شپه ئې لور ژړل
په لپمو ئې لاس مُښل
چي د مور ئې شيدې نه وي
د زړګي ويني په خوله وي
بيا حضرت ځني سوال کړ
او سوال ئې په مقال کړ
دا جلۍ ولي ژړا کړي
چي ژړا په واويلا کړي
ده ويل چي ستا قربان شم
هم قربان دي د احسان شم
ځما دختره ده وچ موري (۱۰۵)
چي شيدې نه وي نو ښوري
د وږې شيدې اې ياره
دې خوړلې ښې بسياره
وزه مو تا ته ذبيحه کړه
ستا تر سره مو صدقه کړه
اوس نجلۍ د لوږې ژاړي
چي شيدې نه وي تياري
ته دعا وکړه ځما پيره
ځما د کور بدرمنيره
چي ئې مور شي شيده وره
ځما په لور شي بهروره
ژر حضرت دعا شروع کړه
و خپل ربت ه ئې رجوع کړه
هم زاري هم ئې نياز کړ
د خالق سره ئې راز کړ
چي اې خدايه زه بنده يم
له دې شخصه خورسنده يم
دا عاجزه نجلۍ ربه
کړې سېرابه له مطلبه
دا دعا شوه مستجابه
د خالق د لوی جنابه
خدای [ئې] مور کړه شيده وره
لور ئې هم شوه بختوره
چي شيدې ئې شوې بسياري
لور ئې نه کړې بيا کوکاري
د هارون اعتقاد ډېر شه
له فرحته ئې ځان هېر شه
ملا ئې وتړله سخته
په خدمت د ده نېکبخته
لويه لور ئې بله هم وه
چي د پلار د زړه مرهم وه
په ښايست کښې لکه نمر وه
په طلعت کښې د قمر وه
د جنت حوره وه دله
شاپېرۍ وه ترې خجله

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**په پرده کښي د عصمت وه**
**په خېمه کښي د عفوت وه**
**..............**
**و مېلمه تې اعتذار کړ**
**پر نکاح باندي اقرار کړ**
**چي دا لور کړه ځما قبوله**
**اې د پاک حضرت بتوله**
**بل څه نه لرم په کور کښي**
**چي ئې صرف کړم ستا په لور کښي**
**دا مي لور دا مي وطن دئ**
**ټول قربان ستا تر ګفتن دئ**
**که ته ولاړ شې بیا سفر کړې**
**ځما وطن به لوی محشر کړې**
**په ناچار ئې نکاح وکړه**
**د هارون زره ئې پرې ښه کړه**
**نو په پښين کښي دی دېره شو**
**ټول پښتنګيان ئې صدقه شو**
**........................**
**دا قصه چي په مقصد شوه**
**په سنه کښي د شش صد شوه**
**له ثقاتو روایت دئ**
**له عمده و حکایت دئ**

**د نهمي مي برخي لمنليکونه:**

۹۲ـ له پشنګ څخه مراد پښين دئ.
۹۳ـ لرغونی بوری ـ ۱۰ مخ
۹۴ـ آئين اکبري یا اکبرنامه د ابوالفضل بن مبارک ( ۱۵۵۱ـ ۱۶۰۲م) تالیف دئ چي په فارسي ژبه ئې په درو ټوکو کي کښلی دئ. ابوالفضل د جلال الدین محمد اکبر وزیر او د دربار تاریخ نګار وو. انګرېزي ترجمه ئې د Colonel H. S. Jarrett په قلم بشپړه سوې او د بنګال ايشياټيک سوسايټي له خوا په ۱۸۹۱م کي خپره سوې ده.
۹۵ـ په ۳۹۳مخ کي په حاشيه کي کښلي دي :
یو تومن = ۱۸ دیناره
یو تومن = ۸۰۰ دام
کندهاری تومن = ۳۰ روپۍ
عراقی تومن = ۴۰ روپۍ
یو خروار = ۴۰ کندهاری منه
۹۶ـ لرغونی بوری ـ ۱۵مخ
۹۷ـ دسید محسن اغا په باب به ددې کتاب په ... فصل کي ورغږېږو. ۹۸ـ وګ : مزارات ، له ۱۱۰مخ څخه تر ۱۲۲مخ پوري
۹۹ـ ګنداسنګه ، درانی احمد شاه ( پښتو ژباړه)، ۳۸۴ مخ
۱۰۰ـ د خان شهيد یاد ـ ۲۲مخ ۱۳۷۰ش ، کابل
۱۰۱ـ غیاث اللغات
۱۰۲ـ مزارات ـ ۶۱مخ
۱۰۳ـ وګ : لرغونی بوری، لورالائي ـ ۱۰۳ مخ
۱۰۴ـ دغه وروستی ورور ئې په ځينو ځایو کي سيد بلال، سيد بليل هم ليکل سوی دئ.
۱۰۵ـ وچ موري: هغه کوچنی/کوچنی چي مور ئې شيدي ونه لري.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ